# سلام عام کړئ!

**03-APRIL-2025**



هفته‌وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ 3 اپریل، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 4 شوال شریف، کال 1446ھ) د پاکستان
پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# سلام عام کړئ!

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د 30 نیکو والا عمل
- د اِسلامي سلام خاصیت
- پۀ معاشره کښې د بے سکونۍ یو سبب
- د تکبّر نه د نجات طریقه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، په صفحه: 39، حدیثِ پاک نمبر: 39 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی لَیَنْظُرُ اِلٰی مَنْ یُّصَلِّیْ عَلَیَّ وَ مَنْ نَظَرَ اللّٰهُ تَعَالٰی اِلَیْهِ لَا یُعَذِّبُهٗ اَبَدًا۔ [1]

ترجمه: کوم کَس چې په ما باندې درود شریف لولي **اللّٰه پاک** هغهٔ ته د رحمت نظر فرمائي او چا ته چې **اللّٰه پاک** د رحمت نظر وفرمائي هغهٔ له چرې هم عذاب نهٔ ورکوي۔

ذاتِ والا پہ بار بار دُرود     بار بار اور بے شُمار دُرود

رُوئے اَنْور پہ نور بار سلام     زُلفِ اَطہر پہ مُشکبار دُرود

سر سے پا تک کروڑ بار سلام     اور سراپا پہ بے شُمار دُرود

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...افضل الصلوات للنبهانی، صفحه: 40۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د 30 نيکو والا عمل

صحابئ رسول حضرت عمران بن حُصَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل د نور محفل لګيدلے وو، د **الله پاک** د ټولو اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هم پهٔ خدمت کښې حاضر وو، پهٔ دې کښې يو کَس راغلو، هغهٔ ووئيل: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ! خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د (جواب د سلام نه پس) وفرمائيل: عَشْرٌ يعني دهٔ د پاره 10 نيکۍ دي۔ لږ وخت پس يو بَل کَس راغلو، هغهٔ ووئيل: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ۔ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: عِشْرُوْن يعني دهٔ د پاره 20 نيکۍ دي۔ لږ وخت پس يو بل کَس حاضر شو، هغهٔ ووئيل: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ! پهٔ دې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ثَلَاثُوْن يعني دهٔ د پاره 30 نيکۍ دي۔ (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

2... ترمذی، کتاب الاستئذان، باب ما ذکر فی فضل السلام، صفحه:633، حديث:2689۔

# لږه شان توجه او 30 نیکۍ

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلې خبره ده--!! د اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِين په مونږه ګنهګارانو باندې دا څومره لوئي احسان دے چې صرف او صرف د یو یا نیم سیکنډ کار دے او کار هم ډیر ګران نهٔ دے، څهٔ بوج اوچتل نهٔ دي، لاس ښپې خوزول نهٔ دي، کیدے شي چې زمونږه د وجود ځغه حصه کومه چې خوزول ډیره انسانه ده، هغه زمونږه ژبه ده، دې ژبې له مو لږ شان حرکت ورکړے دے او یو څو الفاظ مو وئیل : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ په دې لږ شان کار باندې به مونږ ته 10 نیکۍ عطا کړے شي، که لږ شان کوشش نور وکړے شي او ورسره وَرَحْمَةُ اللهِ هم یو ځائے کړے شي نو نیکۍ به 20 شي، که بالکل معمولي شان کوشش نور وکړے شي او ورسره وَبَرَكَاتُهٗ هم یو ځائے کړے شي نو نیکۍ به 30 شي- یعنې بس صرف د لږې شان توجه ضرورت دے- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په نیکو کښې به درې چنده اضافه وشي-

## د یوې نیکۍ اهمیت

کیدے شي چې دا کمې ښکاري چې صرف 30 نیکۍ--!! دا صرف 30 نهٔ دي- خبره د شمیرې نهٔ ده، خبره د اهمیت ده- مثلاً چې د لسو روپو والا 30 نوټونه وي نو څومره رقم به ترینه جوړیږي؟ 300 روپۍ- که د 5 زرو 30 نوټونه وي نو څومره رقم به ترینه جوړیږي؟ یو نیم لاکھ روپۍ- یعنې دې ته مهٔ ګورئ چې صرف 30 نیکۍ دي، دې ته ګورئ چې د یوې نیکۍ اهمیت څومره دے--!!

په حدیثِ پاک کښې دي: بنده به د قیامت په ورځ باندې نیکۍ او ګناهونه راوړي - د هغهٔ حساب به شروع شي، نیکۍ به یې د ګناهونو په ذریعه کمیږي (مثلاً 10 نیکۍ دي، هُم 10 ګناهونه دي د دغه 10 نیکو په بدل کښې به 10 ګناهونه معاف شي، دغه شان به د نیکو په ذریعه باندې ګناهونه معاف کیږي) اخر به د بنده سره صرف یوه نیکي پاتې شي، د دغې یوې

نیکۍ پهٔ برکت به **الله پاک** هغهٔ جنَّت ته داخل کړي-[1]

سُبْحٰنَ الله! دا د یوې نیکۍ قیمت دے، معلومه شوه چې د بنده سره د اِخلاص والا مقبوله صرف یوه نیکي هم وي نو د هغې جزا جنَّت دے- د دې نه اندازه ولګوئ چې د 30 نیکو به څومره قدر او قیمت وي؟

یوه بله خبره عرض کوم چې: د جنَّت یوه خښته دومره اعلیٰ ده چې دا ټوله دُنیا او د دې ټول دولت هم راجمع کړے شي نو د جنَّت یوه خښته پرې نشي اخستے، د دومره اعلیٰ جنَّت صرف یوه خښته نهٔ بلکې پوره پوره محلونه د یوې نیکۍ پهٔ ذریعه حاصلیدے شي- دا د یوې نیکۍ قدر او قیمت دے، لکه چې یوه نیکي د دې ټولې دُنیا او څهٔ چې پهٔ دې کښې دي، د دې ټولو نه ډیره قیمتي او د زیات اهمیت والا ده- قربان شم د داسې اعلیٰ ترین قدر او قیمت والا صرف د یوې نهٔ بلکې د 30نیکو نه کومې چې پهٔ اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَۃُ اللهِ وَبَرَکَاتُہٗ! وئیلو سره نصیب کیږي-

## د نیکو حرص کوونکي جوړ شئ!

افسوس چې دلته د نیکو حرص ډیر کم دے، خلق ډیره کمه توجه کوي- هسې خو ډیرې خبرې کوي، سحر چې د خوب نه راپاڅي نو ژبه یې چالو شي، هُم د شپې د اوده کیدو پهٔ وخت بنده شي ✿ فضول ګپونه ✿ ټوقې ټقالې ✿ پهٔ بړق بړق خنداګانې ✿ کنځلې ✿ غیبتونه ✿ چغلیانې او پته نهٔ لګي چې کوم کوم فضول او د ګناهونو نه ډک کارونه ټوله ورځ کوي، خو پهٔ سلام کولو کښې ورته مشکلات وي، بنه او اخلاقي مسلمانان اَلْحَمْدُ لِله! د سلام عادت لري، چې میلاؤیږي نو سلام به کوي خو پهٔ دې کښې هم یوه شمیره د داسې خلقو ده کوم چې صرف اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وائي، د دې نه مخکښې وَرَحۡمَۃُ اللهِ وَبَرَکَاتُہ ورسره نهٔ وائي، داسې بغیر د څهٔ وجې د 20 نیکو نه محرومه پاتې کیږي- کاش چې زمونږه د

---

1... معجم کبیر، جلد:6، صفحہ:115، حدیث:12661۔

نیکو کولو ذهن جوړ شي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ښه جواب ورکوئ---!!

**الله پاک** پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَاِذَا حُیِّیْتُمْ بِتَحِیَّةٍ فَحَیُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَاۤ (پارہ:5، سورۂ نساء:86)

ترجمہ کنزُالعِرفان: او چې کله تاسو ته پۀ کوم لفظ سلام وکړے شي نو تاسو د هغې نه بهتر لفظ باندې جواب ورکړئ-

یعنې اے مسلمانانو—!! چې کله تاسو ته څوک سلام وکړي نو تاسو د هغې نه ښه جواب ورکوئ، که هغوئي ووائي: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ نو تاسو وایئ: وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، که هغۀ ووائي: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، نو تاسو وایئ: وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ! دا ښه جواب دے، یقیناً چې **الله پاک** به د هر څیز حساب اخلي، هر یو ته به د هغۀ د عمل مطابق جزا او سزا ورکوي، لهذا ستاسو د سلام او جواب اَجر به ضائع کیږي نۀ-

## د سلام جواب ورکول واجب دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د دې آیت مبارک نه معلومه شوه چې د سلام جواب ورکول واجب دي،[1] نن سبا پۀ دې معامله کښې د سستۍ نه کار اخستے کیږي، ډیر خلق د سلام صحیح جواب نۀ ورکوي ❀ صرف سَر خوزوي ❀ پۀ ژبه ورو شان وَعَلَیکُم وائي ❀ بعضې خلق پۀ سلام اوریدو لاس اوچتوي، پۀ خُله باندې هډو څۀ وائي نۀ ❀ او د بعضې خلقو خو داسې حالت هم دے چې پۀ سلام اوریدو هم څۀ توجه نۀ ورکوي، د جواب پۀ ځائے څۀ بَل څۀ خبرې شروع کړي- دا ټول غلط اندازونه دي، دا خبره پۀ ښه طریقه پۀ ذهن کښې کښینوئ چې سلام کول سُنَّت او د دې جواب ورکول واجب دي، که جواب یې ورنکړو،

1... بہارِ شریعت، جلد:3، صفحہ:459، حصّہ:16-

یا جواب یــې ورکړو خو بغیر د شرعي مجبورئ نه یــې فوراً ورنکــړو نو ګنهګار به شي.(1) ځکه چې کله هم څوک سلام وکړي نو په پوره توجه سره په دومره اواز کښې جواب لازمي ورکوئ چې سلام کوونکــے یــې واوري- په څومره الفاظو چې هغۀ سلام وئیلے وي نو کــم از کــم په هُغه همره الفاظو کښې خو جواب ضرور ورکوئ! افضل دا دي چې په جواب کښې الفاظ زیات کړے شي! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډیرې نیکۍ به میلاؤیږي-

## خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته سلام وښودلو

یو صحابي دے، حضرت ابو راشِد عبد الرحمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ- دا چې کله په وړومبي ځل بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو نو فرمائي چې زۀ هُغه وخت ډیر وړوکے ووم- بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې ورسیدم نو ما د عرب د عادت مطابق ووئیل: اَنْعِمْ صَبَاحًا (ستاسو صبا دې ښه وي، چې په انګلش کښې یـې وائي نو د دې ترجمه به جوړیږي: ***Good Morning***) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دا خو د مسلمانانو سلام نۀ دے- عرض یـې وکړو: بیا څنګه عرض وکړم؟ اوئې فرمائیل: چې کله د مسلمانانو سره میلاؤیږې نو وایه: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ- نو هغوئي هم داسې عرض وکړو، بیا نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جواب ارشاد کړو-(2)

دغه شان یو ځل یو غیر مسلمه په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته راغلو، هغۀ د خپل دستور مطابق ووئیل: اَنْعِمْ صَبَاحًا ستاسو صبا دې ښه وي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: **اللّٰه پاک** د دې نه د سلام ښه انداز مونږ ته راعطا کړے دے، زمونږه تَحِیَّت (یعني د ملاقات آدَب) سلام دے- دا انداز د جنَّت والؤ هم دے-(3)

---

1...بهارِ شریعت، جلد:3، صفحه:460459، حصّه:16 بتصرف-

2...تاریخ مدینه دمشق، جلد:35، صفحه:91-

3...معجم کبیر، جلد:7، صفحه:9، حدیث:13586-

## اِسلامي سلام د ټولو طریقو نه ښه دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! افسوس چې نن سبا مسلمانان روان دي خپله طریقه پرېږدي، ډېر مسلمانان دي کومو چې د ماډرن جوړېدو په چکر کښې د سلام سُنَّت پرېښودے دے، چې کله د یو بل سره میلاؤېږي نو ❁ هائے! ❁ ***How Are You*** ❁ کله ***Good Morning*** نو کله ❁ ***Good Evening*** وغیره پته نۀ لګي چې څۀ څۀ وائي- کوم خلق چې ډېر تعلیم یافته نۀ وي، هغوئي که هسې د ماډرن جوړېدو کوشش نۀ کوي نو بیا هم په هغوئي کښې هم مختلف اندازونه رائج دي ❁ ډېر خو پکښې داسې دي کوم چې سلام هډو کوي نۀ، بس په لاس باندې لاس کېږدي یا صرف ګوتې میلاؤ کړي ❁ داسې نادانه هم دي کوم چې د ملاقات په شروع کښې کنځلې کوي ❁ اے، ووو وائي ❁ غرض دا چې د ملاقات په وخت ډېر عجیبه عجیبه اندازونه خلقو اختیار کړي دي- دا ټولې طریقې د سُنَّتو خلاف دي-

مونږه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان یو، مونږه حدیثونه مبارک واورېدل، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باقاعده اَنْعِمْ صَبَاحًا (یعني په ***Good Morning***) وئیلو سره ملاقات کوونکي منع کړل او تربیت یې وفرمائیلو چې سلام اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ دے بلکې د ابو داؤد شریف په حدیثِ پاک کښې دي، حضرت عمران بن حصین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږه به د جهالت په زمانه کښې وئیل: اَنْعَمَ اللّٰهُ بِكَ عَيْنًا (**اللّٰه پاک** دې ستاسو په ذریعه سترګې یخې کړي)، یا به مو وئیل: اَنْعِمْ صَبَاحًا ستاسو صبا دې ښه وي- دِینِ اِسلام مونږه د دې نه منع کړو (او د اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُه! وئیلو حکم یې وکړو)-[(1)]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې خبرو باندې ځان پوهه کول پکار دي چې اِسلام

---

1...مصنف عبد الرزاق، کتاب الجامع، باب کیف السلام و الرد، جلد:10، صفحه:7، حدیث:19606-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! يو مکمل دِين دے، د دۀ خپل تهذيب دے، خپل دستور دے، خپل کلتور دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اِسلام رنګ د ټولو معاشرو نه جُدا، د ټولو نه ښه او بهترين دے، مونږ له پکار دي چې پۀ هره يوه معامله کښې صرف او صرف پۀ اِسلام باندې عمل وکړو- د دۀ تابعداري وکړو-

## د اِسلامي سلام خصوصيت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! اِسلامي سلام پۀ دُنيا کښې پۀ رائجو ټول طريقو کښې ښه، ځانګړے او ډير د کمال دے- د دې صرف زۀ يو مثال عرض کړم: د جهالت پۀ زمانه کښې به عام طور حَيَّاكَ الله (اللّٰه دې تا ژوندے لري) وئيلے کيدلو- دا ښه دُعا ده خو دا هم حقيقت دے چې ژوند بغير د سلامتيا نه عذاب وي، چرته د بيمار سره ميلاؤ شئ او وګورئ چې هغۀ درته خپل غم بيان کړي، چرته د اسپتال چکر ولګوئ! ژوندي اوسيدونکي پۀ څنګه څنګه مصيبتونو کښې اخته کيږي، ځکه اِسلام مونږ ته وښودل چې د ملاقات پۀ وخت صرف د ژوند دُعا مۀ کوئ! بلکې وايئ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه يعني پۀ دُنيا، قبر، حشر، پلِ صراط وغيره چرته چرته هم چې تاسو اوسئ، هر وخت، پۀ هره موقع او هر حال کښې د **اللّٰه پاک** سلامتيا، د هغۀ رحمتونه او د هغۀ برکتونه دې پۀ تاسو باندې راوريږي-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې دُعا ده---!! خو افسوس چې مونږه خپلو مسلمانانو ورونړو ته د دې دُعا کولو او د دې نه د داسې بے مثاله دُعا اخستو پۀ ځائے، اخوا ديخوا خبرې کوو- کاش چې مونږه پوره پوره د اِسلام رنګ واخلو او مونږ د سر نه واخله تر ښپو پورې پوره پوره پۀ اِسلامي تعليماتو باندې عمل وکړو-

## د غير مسلمو د طور طريقو نه بچ اوسئ---!!

پۀ ترمذي شريف کښې روايت دے: د **اللّٰه پاک** د ټولو نه آخري نبي، رسولِ هاشِمي محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د غير مسلمو سره مشابهت اختيار کړي،

هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے- بس د غير مسلمو طريقې مهٔ اختياروئ! بعضې غير مسلمه صرف د ګوتو پهٔ اشاره سلام کوي، بعضې د لاس د تَلي پهٔ اشارې سره کوي (تاسو د دې دواړو طريقو نه بچ اوسئ--!!)[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ دې حديثِ پاک کښې خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ صفا طريقه مونږ ته وفرمائيل چې د غير مسلمو د سلام چې کومه طريقه ده تاسو هيڅکله هم دا طريقه مهٔ اختياروئ! بيا پهٔ دې کښې وعيد ته وګورئ چې څومره سخت دے، اوئې فرمائيل: څوک چې د غير مسلمو طريقه اختيار کړي، هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے-

آه! افسوس! اللّٰه دې نکړي، که چرې زمونږه بخښونکي آقا، د اُمَّت پهٔ غم کښې اوښکې توئيوونکي آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم زمونږ د ګنهګارانو نه مخ واړولو نو سوچ وکړئ چې زمونږه به څهٔ کيږي--!!

نہ اُٹھ سکے گا قیامت تلک خدا کی قسم | کہ جس کو تُو نے نظر سے گرا کر چھوڑ دیا

**اللّٰه پاک** دې زمونږه ايمان سلامت ساتي، زمونږه نسبتونه دې سلامت ساتي، **اللّٰه پاک** دې هُغه ورځ مونږ ته چرې هم نهٔ راښائي چې محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ نه ناراضه شي، مونږ له پکار دي چې مونږه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طريقه اختيار کړو، هم د هغوئې پهٔ سُنَّتو باندې عمل وکړو- بس دا خبره ښه پخه پهٔ زړهٔ او دماغو کښې کښينوو: خَيْرُ الْهَدْيِ هَدْىُ مُحَمَّد يعنې بهترين هدايت هغه دے کوم چې د مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذريعه باندې نصيب شو-

## سلام محبَّت پيدا کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** سلام يو بے بها نعمت دے، **اللّٰه پاک** پهٔ سلام کښې داسې

---

1...ترمذی، کتاب الاستئذان، باب ماجاء فی کراهیة...الخ، صفحه:634، حدیث:2695۔

کمال اثر کیښودے دے چې مونږه سلام خو پهٔ ژبه باندې کوو، خو د دې اثر نیغ پهٔ نیغه پهٔ زړهٔ باندې کیږي- زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: لَاتَدْخُلُوا الجَنَّةَ حَتّٰی تُؤْمِنُوْا تاسو تر هٰغه وخته پورې جنَّت ته نشئ داخلیدے، تر څو پورې چې ایمان را نهٔ وړئ! وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتّٰی تَحَابُّوْا او تاسو تر هٰغه وخته پورې (کامِل) مؤمن نشئ کیدے تر څو پورې چې پهٔ خپل مینځ کښې محبت ونکړئ! بیا یې وفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته هٰغه خبره ونکړم، پهٔ کومه باندې چې تاسو عمل وکړئ نو ستاسو پهٔ خپل مینځ کښې محبت زیات شي؟ اَفْشُوا السَّلَامَ بَیْنَکُمْ پهٔ خپل مینځ کښې سلام عام کړئ! [1]

## د محبت نه ډک اِسلامي غَشے

حضرت لُقمان حکیم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یو ځل خپل زوي ته پهٔ نصیحت کولو وفرئیل: زویه! چې کله هم د یو قوم پهٔ خوا تیریږې نو هغوئي پهٔ اِسلامي غَشي ووله!

**دا اِسلامي غَشے څهٔ دے؟** حضرت عَوف بن عبد الله رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د دې نه مُراد سلام دے- [2] یعني چې کله سلام کوې نو ستا سلام به د محبت نه ډَک غشے جوړ شي او پهٔ مخامخ کَس باندې به ولګي او محبت به زیات شي-

*ہَوَس نے کر دیا ہے ٹکڑے ٹکڑے نوعِ اِنساں کو*
*اُخُوَّت کا بیاں ہو جا! محبت کی زباں ہو جا!*

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته عام طور داسې کیږي، بعضې وخت پهٔ کورونو کښې پهٔ خپل مینځ کښې جګړه وشي نو مور پلار هغوئي ته هم وائي: څهٔ! زویه--! یو بل ته سلام وکړئ! لاس میلاؤ کړئ! ورغاړه وځئ--!! داسې چې د لویو پهٔ خپل مینځ کښې جګړه وي، پهٔ څهٔ مسئله باندې جګړه وشي نو دا د تجربې خبره ده چې د چا سره جګړه شوې وي نو هغهٔ ته

---

1... ابوداؤد، کتابُ الادب، بابِ اِفْشَاءُ السلام، صفحه:809، حدیث:5193۔

2... زُہد لِاِبْنِ مبارک، صفحه:332، حدیث:950۔

مُسکے شي او پۀ روڼ تندي ورته سلام وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغۀ زړۀ به نرم شي- لږ غور وکړئ چې مونږ کله د ملاقات پۀ وخت کښې وَړې جملې وايو، د غير مسلمو نقل کوو، آيا پۀ هغه جملو او اندازونو کښې هم داسې اثر شته ــ؟ نشته- اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا صرف هُم د اِسلامي سلام کمال اثر دے چې څنګه سلام وکړې نو پۀ زړۀ باندې به اثر وکړي او محبت به راپار کړي-

## پۀ معاشره کښې د بے سکونئ يو سبب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! افسوس چې نن صبا پۀ معاشره کښې بد امني او بے سکوني ورځ په ورځ زياتيږي، کور پۀ کور د جنګ ميدان لګيدلے دے ❀ ورور د ورور نه مخ اړوي ❀ اولاد مَعَاذَالله! د مور پلار سره مخالفت کوي ❀ د چا د ترۀ سره نۀ لګي ❀ څوک د پلار د طرف نه د ترور نه خفه دے ❀ څوک د مور د طرف نه د ترور نه خفه دے ❀ د چا ماما پۀ سترګو بد لګي ❀ د ګاؤنډيانو پۀ خپل مينځ کښې جګړې دي ❀ هم پۀ يو کور، هم پۀ يوه کوڅه، هم پۀ يوه محله کښې اوسيدونکي پۀ خپل مينځ کښې د نفرتونو او فاصلو ښکار دي- تاسو ته معلومه ده چې د دې څۀ وجه ده؟ د دې يوه بنيادي وجه **د سلام پۀ سُنَّت باندې عمل نۀ کول** هم دي-

افسوس چې زمونږه پۀ معاشره کښې سلام ته اهميت نۀ ورکړے کيږي، اول خو خلق سلام هم نۀ کوي ❀ چې کوي يې نو هغوئي له پۀ صحيح طريقه باندې سلام کول هم نۀ ورځي، څوک سَامَا لَيْکُم وائي، څوک سَلَامَا لَيْکُم وائي، بس چې څومره خُلې هغه همره بدل سلامونه دي- کاش چې مونږه پۀ صحيح طريقه سلام کول هم زده کړو او سلام عام کوونکي هم جوړ شو- ❀ بيا سلام پۀ صحيح طريقه باندې وکړو که پۀ غلطه طريقه باندې، دا يو بيل مصيبت دے، نا اشنا کَس ته يې نۀ کوو- ياد ساتئ چې دا د قيامت پۀ نخښو کښې يوه نخښه ده، آؤ جي! **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** د قيامت د نښو نه دي چې خلق به صرف

خپلو پیژندګلو خلقو ته سلام کوي-[1]

افسوس چې اوس دا انداز په خلقو کښې په نظر راځي بلکې نا اشنا خو څهٔ کوې چې اوس دا انداز دے چې خلق خپل اشنا خلقو ته هم ډیر کم سلام کوي- **الله پاک** دې زمونږ په حال باندې رحم وکړي، مونږ ته سلام عام کول پکار دي-

## د سلام عام کولو فضیلتونه

حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما چې په مدینه منوره کښې د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې خُلې نه د ټولو نه وړومبے کوم کلام واوریدو هغه دا وو: یَاَیُّهَا النَّاسُ! اے خلقو! اَفْشُوا السَّلَامَ سلام عام کړئ! وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ په خلقو خوراک کوئ ! وَصَلُّوْا بِالَّیْلِ وَالنَّاسُ نِیَامٌ او د شپې چې کوم وخت خلق اوده وي، هُغه وخت نـمونځ کوئ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ (تاسو چې دا درې کارونه کوئ نو) په سلامتیا سره به جنّت ته داخل شئ-[2]

سُبْحٰنَ الله! څومره اسان اسان کارونه دي: ❀ سلام عام کول دي، یعنې په کوڅه د تیریدو په وخت، په دُکان، کالج کښې، دفتر کښې، چې کله هم، چرته هم د مسلمان وړور سره ملاقات کیږي، د ټولو نه وړومبے هغوئي ته سلام کول دي ❀ په خلقو خوراک کول دي ❀ او د شپې چې کله خلق اوده شي، کم از کم دوه رکعته نـمونځ کول دي، د دې دریو اسانو کارونو په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! جنّت ته داخلیدل نصیب شي-

## د سلام عام کولو نااشنا جذبه

حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا صحابئ رسول دے، د هغوئي عادت مبارک وو چې روزانه به د کور نه وتلو، بازار ته به تللو، بازار ته به په یو طرف داخلیدلو او تللو تللو به او په بَل طرف به ترینه وتلو او کور ته به واپس راتللو، نهٔ به په یو دکان کښې ایساریدو، نهٔ به یې

---

1... مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:71، حدیث:3848-

2... اِبْنِ ماجه، کتابُ اِقَامَةِ الصلوٰة، جلد:1، صفحه:423، حدیث:1334-

سودا ته کتل، نۀ به يې د نرخ پوښتنه کوله، او نۀ به يې څۀ اخستل- بس تللو به او واپس به راتللو- يوه ورځ د هغوئي غلام حضرت ابو رَافِع رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ترينه اخر پوښتنه وکړه چې عالي جاه! دا څۀ قيصه ده؟ تاسو بازار ته ځئ، نۀ څۀ اخلئ، نۀ څۀ ته ګورئ، بيا بازار ته ولې ځئ؟ اوئي فرمائيل: **زۀ خلقو ته سلام کولو د پاره ځم-**[1]

يعني پۀ بازار کښې ډير خلق موجود وي، ځکه زۀ بازار ته د دې د پاره ځم چې هلته خلقو ته سلام وکړم، يو خو د هغوئي نه د سلام د جواب پۀ شکل کښې د سلامتيا دعاګاني واخلم، دويم دا چې پۀ سلام کولو نيکۍ وګټم-

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلې جذبه ده- کاش چې زمونږه هم داسې شوق نصيب شي چې بس پۀ ژبه باندې اَلسَّلَامُ عَلَيۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُه جاري وي، چې کله هم د مسلمان وورور سره ملاقات کيږي، فوراً پۀ وړومبي سلام کولو اَلسَّلَامُ عَلَيۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُه ووايئ- اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! ډيرې نيکۍ به مو نصيب شي-

## وړومبے تاسو سلام کوئ!

دا هم ډيره خوندوره خبره ده، سلام کول سُنَّت او جواب ورکول واجب دي خو دا هغه سُنَّت دي د کومو ثواب چې د واجبو نه هم زيات دے- آؤ جي! **د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: چې کله دوه مسلمانان ملاقات کوي او پۀ هغوئي کښې يو خپل ملګري ته سلام کوي نو پۀ هغوئي کښې **الله پاک** ته زيات محبوب (يعني خوښ) هغۀ وي کوم چې د خپل ملګري سره پۀ زياته ګرم جوشۍ سره ملاقات کوي، بيا چې کله هغوئي لاسونه ميلاوهي نو پۀ هغوئي باندې 100 رحمتونه نازليږي، پۀ هغې کښې 90 رحمتونه (پۀ سلام کښې) د وړومبي والي کوونکي د پاره او 10 د لاس ميلاوهونکي د پاره دي-[2]

1...مشکوٰۃ المصابیح، جز:3، جلد:2، صفحہ:167، حدیث:4664۔
2...مسندِ بزّار، جلد:1، صفحه:437، حديث:308۔

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا طریقه هم اختیارول پکار ده! دا خپل ذهن جوړ کړئ چې کله هم د چا سره ملاقات کوئ نو پۀ سلام کښې وړومبے والے کوئ - **پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** **الله پاک** ته زیات نزدې هغۀ دے څوک چې پۀ سلام کښې وړومبے والے کوي- یو ځل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې پوښتنه وشوه: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پۀ سلام کښې وړومبے والے چا ته کول پکار دي؟ اوئې فرمائیل: څوک چې د **الله پاک** قُرب زیات لري۔[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! د **الله پاک** د قرب موندلو ډیره اسانه ذریعه ده: پۀ سلام کښې د وړومبي والي عادت جوړول، **الله پاک** به تاسو ته خپل قرب عطا کړي-

## پۀ سلام کښې وړومبے والے د عاجزۍ نخښه ده

ذهن ته به دا خبره راځي چې پۀ دومره اسان عمل باندې اَجر څنګه میلاؤیدے شي–؟ پۀ اصل کښې دا اسان عمل نۀ دے، دا ګران کار دے- د وړومبي سلام کولو د پاره عاجزي پکار وي، ډیر ځل داسې کیږي چې بنده د خپلې اَنا پۀ وجه دا نیکي نشي کولے ❁ بعضې وخت زړۀ ته خیالونه راځي چې فلانکے ګس زما نه وړوکے دے، هغۀ له پکار دي چې ما ته سلام وکړي ❁ هغۀ خو شاګرد دے، د هغۀ حق دے چې استاذ ته سلام وکړي ❁ فلانکے خو نوکر دے، که زۀ هغۀ ته سلام وکړم نو زما رُعب به کم شي- وغیره وغیره خیالونه پۀ زړۀ کښې راپورته کیږي او د دغه خیالونو پۀ وجه خلق پۀ سلام کښې وړومبے والے نۀ کوي- ځکه به پۀ سلام کښې وړومبے هم هغۀ کولے شي څوک چې عاجزۍ والا وي او عاجزي هُغه عمل دے چې پۀ حدیثِ پاک کښې ارشاد دے: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰہِ رَفَعَہُ الله څوک چې د **الله پاک** د پاره عاجزي کوي، **الله پاک** هغۀ ته اوچت والے عطا کوي.[2]

---

[1]...ترمذی، کتاب الاستئذان، باب ماجاء فی فضل الذی یبدا بالسلام، صفحه:634، حدیث:2694۔

[2]...حلیۃ الاولیا، جلد:7، صفحه:145، حدیث:9958۔

پهٔ سلام کښې وړومبے والے کول هم د عاجزۍ علامت دے، ځکه د دې نیک عمل پهٔ برکت د **الله پاک** قُرب نصیب کیږي۔

## د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے انداز

ځکه **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږ له پکار دي چې پهٔ سلام کښې وړومبے والے کوو۔ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا چې شان دے چې

بَعۡد اَزۡ خُدَا بُزُرگ تُوئی قِصَّه مُخۡتَصر

د **الله پاک** نه پس د ټولو نه اوچته مرتبه هم د هغوئي ده، د نبیانو امام دے، د فرښتو هم نبي دے، د ټولو مخلوقاتو نبي دے، د دومره اوچتې مرتبې لرلو باوجود یې انداز مبارک څومره ځانګړے وو، پهٔ روایتونو کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې پهٔ کوڅه باندې تیریدلو، پهٔ لاره کښې یې ماشومان پهٔ لوبو باندې ولیدل نو پهٔ سلام کښې به یې وړومبے والے فرمائیلو۔

## د تکبر نه د نجات طریقه

سُبۡحٰنَ الله! کاش چې زمونږه هم دا سعادت نصیب شي۔ پهٔ سلام کښې د وړومبي والي عادت جوړ کړو۔ که څوک وړوکے وي او که لوئي، زمونږه استاذ وي او که شاګرد، نوکر وي او که مقتدي بس پهٔ ذهن کښې دا راوستل پکار دي چې پهٔ سلام کښې وړومبے والے هم ما ته کول پکار دي۔ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اَلۡبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِیۡئٌ مِنَ الۡکِبۡرِ یعنې پهٔ سلام کښې وړومبے والے کوونکے د تکبر نه ازاد دے۔(1)

## سلام به کوم وخت کوو

**پهٔ ابو داؤد شریف کښې حدیثِ پاک دے:** زمونږه او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

1...الآداب للبیهقي، باب من اولی بالابتداء بالاسلام، صفحه:83، حدیث:249۔

مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله په تاسو کښې څوک د خپل مسلمان ورور سره ميلاؤ شي نو هغهٔ ته دې سلام وکړي، بيا چې په تللو تللو کښې د دواړو په مينځ کښې وَنه، ديوال يا کاڼے راشي (مثلاً په مينځ کښې وَنه راغله، يو د وَنې په يو اړخ باندې تير شو، بَل په بل اړخ باندې، بيا چې د وَنې نه مخکښې لاړل او) بيا ميلاؤ شول نو بيا دې سلام وکړي۔[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا انداز هم مونږ له اختيارول پکار دي! دا سوچ ډير ځل ليدلے کيږي چې يو ځل په ملاقات کښې چې سلام وکړے شي نو بيا لکه چې د ټولې ورځ د پاره کافي شو، بيا که 100 ځل هم ميلاؤ شي نو خلق سلام نهٔ کوي، دا ذهن جوړ وي چې لا اوس سحر خو مو سلام کړے وو۔ دا سوچ ټيک نهٔ دے۔ د سلام د عام کولو حکم دے، په ورځ کښې که زر کرته هم ملاقات وشي بلکې هم په کور کښې د يوې کمرې نه بلې کمرې ته لاړ شئ نو سلام کوئ۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! نيکئ به هم ميلاؤيږي او يو بَل ته به دعاګانې کول هم نصيب کيږي، څهٔ پته لګي چې کوم يو وخت د قبليدو وي چې مونږه د سلامتيا، د رحمت او برکت دُعا وکړو يا واخلو، هُغه وخت دُعا قبوله شي او زمونږه په دُنيا، قبر، حشر، پل صِراط وغيره هر يو ځائے کښې د سلامتيا دولت نصيب شي۔

## کور ته د داخليدو په وخت سلام کوئ!

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته په نصيحت کولو وفرمائيل: زويه! چې کله هم کور ته ځې! نو کور والؤ ته سلام کوه! د دې سره به په تا او ستا په کور والؤ باندې برکتونه وي۔[2]

نن سبا د بے برکتئ شکايت ډير عام دے، په لکونو ګټونکي وائي چې: وروره! نهٔ پوره کيږي۔ يعنې امدن کم او خرچې ډيرې دي۔ په رزق کښې برکت نشته۔ ډيره اسانه نسخه ده، که په

[1]...ابوداود، کتاب الادب، باب فی الرجل يفارق...الخ، صفحہ:810، حديث:5200۔
[2]...ترمذی، کتاب الاستئذان، باب ماجاء فی التسليم اذا دخل بيتہ، صفحہ:635، حديث:2698۔

کور کښېږي، د کور پهٔ رزق کښېږي، د کور والؤ پهٔ ځان کښېږي، عزت کښېږي، صحت او عافيت کښېږي برکتونه غواړئ نو د سلام عادت جوړ کړئ! چې ځنګه کور ته داخليږئ نو د ټولو نه وړومبے دُعا لولئ! بيا فوراً پهٔ تيز اواز باندې سلام کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډير برکتونه به راشي۔

## د غربت نه نجات ميلاؤ شو

حضرت سَهل بن سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل يو کَس بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او د خپلې تنګدستۍ او غريبۍ شکايت يـې وکړو۔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: چې کله تهٔ خپل کور ته داخليږې نو کور والؤ ته سلام کوه! که پهٔ کور کښې څوک نهٔ وي نو پهٔ ما باندې سلام عرض کوه او يو ځل قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (يعنې پوره سُورهٔ اِخلاص) لوله۔

هُغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاړو او پهٔ دې باندې يـې عمل شروع کړو، چې کله به کور ته داخليدلو نو کور والؤ ته به يـې سلام کولو، بيا به يـې سُورهٔ اِخلاص شريف لوستلو، د دې پهٔ برکت باندې پهٔ هغوئي باندې داسې کرم وشو، **اللّٰه پاک** هغوئي ته داسې مال عطا کړو چې هغوئي د خپلو ګاؤنډيانو او خپلوانو هم خدمت شروع کړو۔ [1]

شافعِ روزِ جَزا تم پہ کروڑوں درود | دافعِ جُملہ بَلا تم پہ کروڑوں درود [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آيا د جدا کيدو پهٔ وخت سلام کول پکار دي؟

دلته يوه غلط فهمي ده، بعضې خلق دا ګڼي چې د ميلاؤيدو پهٔ وخت سلام کول پکار دي، د دې سره محبت زياتيږي خو د جدا کيدو پهٔ وخت سلام نهٔ دي کول پکار، پهٔ دې سره فاصلې زياتيږي۔ دا ډيره غلطه خبره ده، د سلام کولو صرف فائدې دي، د دې هيڅ نقصان

[1] … تفسیر قرطبی، پارہ:30، سورۂ اخلاص، زیرِ آیت:1، جلد:10، صفحہ:4765۔
[2] … حدائقِ بخشش، صفحہ:264۔

نشته- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پهٔ تاسو کښې چې کله څوک مجلس ته راشي نو سلام دې کوي- بيا چې کله د مجلس نه پاځي نو هم دې سلام کوي چې وړومبے د دويم نه زيات حق دار نهٔ دے-[1]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکلي دي: د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې تيريدونکے دې صرف يو سلام کوي او څوک چې پهٔ مجلس کښې څهٔ وخت ايسار شي هغهٔ دې دوه سلامونه کوي (1): سَلامِ لِقَا يعنې د ملاقات سلام (2): دويم سَلامِ وَدَاع يعنې د رخصتيدلو سلام- دا دواړه سلامونه سُنَّت دي (د دواړو جواب ورکول پکار دي)-[2]

دغه شان پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: چې کله تاسو کور ته ځئ نو سلام کوئ! چې کله د کور نه ووځئ نو هم سلام کوئ--!![3]

معلومه شوه چې لکه څنګه د ميلاؤيدو پهٔ وخت سلام کول محبتونه زياتوي، هم دغه شان د جُدا کيدو پهٔ وخت سلام کول هم محبت زياتوي- ځکه د ميلاؤيدو پهٔ وخت هم سلام کوئ! او د جُدا کيدو پهٔ وخت هم لازمي سلام کوئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## سلام افضل ترينه تحفه ده

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** سلام عام کول جنَّت ته بوتلونکې نيکي ده- ځکه مونږ له هم سلام عام کول پکار دي- د چا سره چې ملاقات کيږي، هغوئي ته خو سلام خامخا کول پکار دي، د دې نه علاوه څوک چې زمونږ نه لرې دي، د چا سره چې ملاقات نهٔ کيږي،

---

[1] ...ترمذی، کتاب الاستئذان، باب ما جاء فی التسلیم عند القیام...الخ، صفحه:636، حدیث:2706-

[2] ...مراۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:336-

[3] ...شعب الایمان، باب فی مقاربۃ...الخ، فصل فی السلام...الخ، جلد:6، صفحه:448، حدیث:8845-

هغوئي ته هم وخت پهٔ وخت سلام رَسَوَل پکار دي- راځئ چې پهٔ دې باره کښې يوه ښکلې واقعه واورو:

د **الله پاک** خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله هجرت وکړو او مدينے منورې ته يې تشريف يوړلو نو هلته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مهاجرو (يعني پهٔ هجرت کولو د راتلونکو) او د انصار صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ترمينځه ورورولي قائمه کړه- دې لړ کښې حضرت سلمان فارسي او حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهما پهٔ خپل مينځ کښې ورونه ورونه جوړ کړے شول-

پهٔ دې بنياد باندې به حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ خپل مينځ کښې ډيره مينه محبت ساتلو- د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري وصال نه پس حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شام ملک ته تشريف يوړلو او حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عراق پهٔ مدائِن ښار کښې تشريف فرما شو-(1)

يو ځل حضرت اَشعَت بن قيس او حضرت جَرِير بن عبد الله بَجلِي رَضِیَ اللهُ عَنْهما د شام نه عراق ته لاړل، هغوئي دواړو حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ليدلے نهٔ وو، پهٔ پوښتنه کولو کولو د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ خدمت کښې حاضر شول، هُغه وخت حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ يوه وړهٔ شان خيمه کښې تشريف فرما وو، حضرت اَشعَت بن قَيس او حضرت جَرِير بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهما سلام عرض کړو، حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ جواب ارشاد کړو، بيا ترينه دواړو پوښتنه وکړه: آيا هُم تاسو سلمان فارسي يئ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! زهٔ سلمان فارسي يم- پوښتنه يې وکړه: هُغه سلمان کوم چې صحابئ رسول دے؟ حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل: دا خو ما ته پته نشته چې زهٔ صحابي يم او که نهٔ- دا يې چې واوريدل نو حضرت اَشعَت او حضرت جَرِير رَضِیَ اللهُ عَنْهما لږ پهٔ شک کښې شول او پهٔ خپل

[1] ...اسد الغابه، جلد:2، صفحه:514-

مينځ کښې يـې ووئيل: کيدے شي چې مونږه د چا سره ميلاؤيدل غواړو هغهٔ دا نهٔ وي- حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: تاسو چې د چا سره ميلاؤيدل غواړئ، زهٔ هم هغهٔ يم- ما د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيارت شرف حاصل کړے دے او د هغوئي بابرکته صحبت هم ما ته حاصل دے، خو (پهٔ حقيقت کښې) صحابي هغهٔ دے کوم چې د حضور نبئ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره جنَّت ته داخل شي-

د دې نه پس حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوښتنه وکړه: تاسو دواړه څنګه راغلي يئ؟ عرض يـې وکړو: مونږه د شام نه ستاسو د ورور حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خوا نه راغلي يو- بس دومره اوريدل وو چې حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فوراً وفرمائيل: بيا راوړئ هغوئي چې زما د پاره کومه تحفه راليږلې ده، هغهٔ راکړئ---! دا يـې چې واوريدل نو حضرت اَشعَث بن قيس او حضرت جَرِير بن عبد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما حيران پاتې شول او عرض يـې وکړو: عالي جاه! هغوئي ستاسو د پاره هيڅ تحفه نهٔ ده راليږلې- اوئې فرمائيل: ځوک چې هم د هغوئي د خوا نه راځي، هغوئي زما د پاره تحفه ضرور راليږي، ځکه د **الله پاک** نه ويريږئ او امانت ادا کړئ- عرض يـې وکړو: حضورا! دا زمونږه ساز او سامان دے، دا چې تاسو څنګه غواړئ نو استعمال يـې کړئ، خو حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ستاسو د پاره هيڅ تحفه نهٔ ده راليږلې- اوئې فرمائيل: زما ستاسو مال ته هيڅ ضرورت نشته، زما خو بس هُم هٰغه تحفه پکار ده کومه چې زما ورور راليږلې ده- بيا خو دې دواړو حضراتو قَسم وخوړو، عرض يـې وکړو: پهٔ **الله پاک** مو دې قَسم وي چې حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هيڅ تحفه نهٔ ده راليږلې- چې کله مونږ د هٰغه ځائے نه راتللو نو هغوئي صرف دومره فرمائيلي وو چې پهٔ عراق کښې يو داسې صحابيِ رسول اوسيږي چې هغهٔ به کله د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې يواځې وو نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به د بَل چا حاجت نهٔ وو، چې کله تاسو د هغوئي

سره میلاؤ شئ نو هغوئي ته زما سلام وایئ۔

حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائیل: هم دغه خو هٔغه تحفه ده د کومي چې ما مطالبه کوله، **د سلام نه زیاته افضل تحفه به بله څهٔ وي؟ سلام برکتي او پاک دے۔**[1]

## سلام رَسَوَل واجب دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته پهٔ کورونو کښې **اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ!** لا تر اوسه دا رواج موجود دے چې کله میلمه خپل کور ته واپس ځي نو وائي: ټولو ته زما سلام وایه۔ دا ډیر ښه عادت دے البته پهٔ دې معامله کښې یوه مسئله یاده ساتئ چې پهٔ بهارِ شریعت، حصه 16، صفحه: 106 باندې دي: چا ته چې ووئیلے شو چې فلانکي ته زما سلام وایه، پهٔ هغهٔ باندې سلام رَسَوَل واجب دي او چې کله هغهٔ سلام ورسولو نو مخامخ کس دې پهٔ جواب کښې داسې وائي: عَلَیۡكَ وَعَلَیۡهِ السَّلَام۔

هُم پهٔ بهارِ شریعت کښې دي: دا سلام رَسَوَل هٔغه وخت واجب دي، چې هغهٔ ووائي چې آؤ زهٔ به ستاسو سلام ورسووم۔ پهٔ دې صورت کښې سلام د هغهٔ سره امانت دے، کوم چې د هغهٔ حق دار دے (یعني د چا د پاره چې سلام رالیږلے شوے دے) هم هغهٔ ته به رَسَوَل وي۔ عام طور حاجیانو ته خلق داسې وائي چې د حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دربار کښې زما سلام عرض کړئ، دا سلام رَسَوَل هم واجب دے۔[2]

بزبانِ زائریں تو میں سلام بھیجتا ہوں | کبھی خود سلام لاتا تو کچھ اور بات ہوتی[3]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ګناه ختمولو والا اسان عمل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** سلام د لاس میلاوهلو نه بغیر هم کیدے شي، البته!

---

1...معجمِ کبیر، جلد:6، صفحه:219، حدیث:6058۔

2...بهارِ شریعت، جلد:3، صفحه:465، حصّه:16۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:385۔

**مُصَافَحَه** (یعني لاس میلاوهل) هم سُنَّت دي- دا نیک عمل هم اختیارول پکار دي- یو ځل حضرت **مُجاهِد** رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه وفرمائیل: د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره پهٔ خپل مینځ کښې **محبت** لرونکي، څوک چې پهٔ خپل مینځ کښې وروروَلي ساتي، کله چې پهٔ دوئي کښې یو د بل طرف ته روان شي، د خپل ورور لاس ونیسي او د هغهٔ د پاره مُسکے شي نو د دې دواړو خطاګانې داسې ختمیږي لکه څنګه چې د وَنې نهٔ پاڼې راغورځیږي- [1] پهٔ یو روایت کښې دي: حضرت **مجاهد** رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: چې کله یو ګس د خپل مسلمان ورور سره میلاؤ شي، د هغهٔ سره **مُصَافَحَه** وکړي (یعني لاس میلاؤ کړي) نو د هُغه دواړو ګناهونه داسې رژیږي لکه څنګه چې پهٔ تیزه سیلۍ کښې پاڼې راغورځیږي- د حضرت **مجاهد** رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه دا خبره چې یې واوریدله نو یو ګس پهٔ حیرانتیا سره ووئیل: بے شکه دا خو ډیر ورُوکے عمل دے (یعني پهٔ دومره اسان عمل باندې دومره لوئي انعام څنګه میلاؤیدے شي؟) حضرت **مجاهد** رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه وفرمائیل: (اے انسانه!) آیا تا د **اللّٰه پاک** فرمان نهٔ دے اوریدلے [2]:

وَ اَلَّفَ بَیۡنَ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ لَوۡ اَنۡفَقۡتَ مَا فِی الۡاَرۡضِ جَمِیۡعًا مَّاۤ اَلَّفۡتَ بَیۡنَ قُلُوۡبِهِمۡ وَ لٰکِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَیۡنَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ ﴿۶۳﴾

(پارہ:10، سورۃ الانفال:63)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغهٔ د مسلمانانو پهٔ زړونو کښې محبت پیدا کړو، که تا پهٔ زمکه کښې چې کوم څهٔ دي ټول خرچ کړي وے نو بیا دې هُم د هغوئي پهٔ زړونو کښې محبت نهٔ شو پیدا کولے-

یعني د دوو زړونو پهٔ خپل مینځ کښې **محبت** د کوم پهٔ نتیجه کښې چې خلق د یو بَل سره میلاؤیږي او لاس میلاوهي، دا **محبت** څه ورُوکے شان عمل نهٔ دے بلکې، **دا خو بے بها نعمت دے کوم چې د دُنیا پهٔ ټول دولت خرچ کولو هم نشي حاصلیدے-**

---

[1]... موسوعة ابن ابی الدنیا، کتاب الاخوان، باب مصافحة ...الخ، 174/8، حدیث:115، المکتبة العصریة بیروت۔

[2]... تفسیر درمنثور، پاره: 10، سورهٔ انفال، زیرِ آیت:63، 100/4، دار الفکر بیروت۔

## د مُصافَحې (يعنې د لاس ميلاوهلو) فضيلتونه

❁ د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے، د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله دوو مسلمانانو ملاقات وکړو او د يو بَل لاس يې ونيولو (يعنې **مُصَافَحه** يې وکړه) نو د **اللّٰه پاک** پهٔ ذِمّهٔ کرم باندې دي چې د دوئي دُعا حاضره کړي (يعنې قبوله يې کړي) او لاسونه به يې نهٔ وي جُدا کړي چې مغفرت به يې وشي[(1)] ❁ د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مسلمان چې کله د خپل مسلمان ورور سره ميلاؤ شي او لاس يې ونيسي نو د دې دواړو ګناهونو داسې رژيږي لکه څنګه چې د تيز زول پهٔ ورځ د وچې وَنې پاڼې او د دوئي ګناهونه بخښلے کيږي اګر که د سمندر د ځګ برابر وي [(2)] ❁ رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چې کله دوه دوستان پهٔ خپل مينځ کښې ميلاؤ شي او **مُصَافَحه** کوي او پهٔ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک لولي نو د دې دواړو د جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې د دواړو مخکښيني وروستني ګناهونه بخښلے کيږي۔[(3)]

**اللّٰه پاک** دې مونږ ته د سلام او د **مُصَافَحې** د ښه عام کولو توفيق راعطا کړي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې مونږ ته د نيک جوړيدو کومه بے بها نُسخه عطا کړې ده، زما مُراد: **نيک اعمال رساله** ده- پهٔ دې کښې هم د سلام عام کولو پهٔ باره کښې ترغيب موجود دے، نو نيک عمل نمبر: 30 آيا نن تاسو پهٔ کور، دفتر، بس، ټرين وغيره کښې د تللو راتللو او پهٔ کوڅو کښې د تيريدو پهٔ وخت پهٔ لارو کښې ولاړو يا ناستو **مسلمانانو ته سلام وکړو؟**

د دې نيک عمل د اختيارولو پهٔ نيت هم د نن نه نيت وکړئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! چې کله

---

1...مسندامام احمد، جلد:5، صفحه:401، حديث:12786۔

2...شعب الايمان، باب فی مقاربة و موادة اہل الدين، جلد:6، صفحه:473، حديث:8950۔

3...شعب الايمان، باب فی مقاربة و موادة اہل الدين، جلد:6، صفحه:471، حديث:8944۔

هم د مسلمان ورور سره ملاقات کيږي، پۀ ياد سره به تهول يعني اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه پۀ وئيلو سلام هم کووم او لاسونه به هم ميلاوهم-

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- پۀ اخر کښې راځئ چې د سلام او د **مُصَافَحې** سُنَّت زده کړو:

## د سلام کولو سُنَّت او آداب

❁ د سلام کولو پۀ وخت پۀ زړۀ کښې دا نيت وي چې چا ته سلام کووم د هغۀ مال او عزت هر څۀ زما پۀ حفاظت کښې دي او زۀ پۀ دې کښې پۀ يو څيز کښې هم ګوتې وهل حرام ګڼم ❁ که پۀ ورځ کښې څو ځل هم ميلاؤيدل وي، يوې کمرې ته بيا بيا تلل راتلل وي، هلته کښې موجودو مسلمانانو ته هر ځل سلام کول د ثواب کار دے ❁ پۀ سلام کښې وړومبے والے کول سُنَّت دي ❁ پۀ سلام کښې پهل [يعني وړومبےوالے] کوونکے د **الله پاک** مقرب بنده دے ❁ پۀ سلام کښې پهل [يعني وړومبےوالے ] د تکبر نه بَري دے ❁ پۀ سلام کښې پۀ وړومبي والي کوونکي باندې 90 رحمتونه او پۀ جواب ورکوونکي باندې 10 رحمتونه نازليږي ❁ پۀ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وئيلو سره 10 نيکئ ميلاؤيږي- چې ورسره وَرَحْمَةُ اللهِ هم ووئيلے شي نو 20 نيکئ به شي- او چې ورسره وَبَرَكَاتُهُ شامل کړے شي نو 30 نيکئ به شي- ❁ دغه شان پۀ جواب کښې پۀ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه وئيلو سره 30 نيکئ حاصليدے شي ❁ د سلام جواب فوراً او پۀ دومره اواز کښې ورکول **واجِب** دي چې سلام کوونکے يې واوري-[1]

رضائے حق کے لئے تم سلام عام کرو | سلامتی کے طلب گار ہو سلام کرو

## د مُصافحې کولو سُنَّت او آداب

لاس ميلاوهلو ته پۀ عربئ کښې **مُصَافَحه** او پۀ انګلش کښې ***Handshake*** وئيلے

---

1...550 سنتیں اور آداب، ص30-32 ملتقطاً۔

شي ❁ د 2 مسلمانانو د ملاقات پهٔ وخت پهٔ دواړو لاسونو سره **مصافحه** کول يعني دواړه لاسونه ميلاوهل سُنَّت دي ❁ د لاس ميلاوهلو نه مخکښې سلام کوئ ❁ د رخصتيدو پهٔ وخت هم سلام کوئ (ورسره) لاس هم ميلاوهلے شئ ❁ د لاس ميلاوهلو پهٔ وخت درودِ پاک لولئ د لاس پريښودو نه مخکښې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مخکښې وروستو ګناهونه معاف کيږي ❁ د لاس ميلاوهلو پهٔ وخت درود شريف لولئ او دا دُعا هم ولولئ: يَغۡفِرُاللّٰهُ لَنَا وَلَکُمۡ (يعني **اللّٰه پاک** دې زمونږه او ستاسو مغفرت وکړي) ❁ 2 مسلمانان چې د لاس ميلاوهلو پهٔ وخت کومه دُعا کوي اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيم! قبليږي به او د لاس پريښودو نه مخکښې مخکښې به دواړه بخښلے کيږي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ❁ پهٔ خپل مينځ کښې د لاس ميلاوهلو سره دښمني ختميږي ❁ مسلمان ته د سلام کولو، لاس ميلاوهلو بلکې پهٔ محبت سره د هغهٔ د ديدن کولو سره هم ثواب ميلاوٗيږي- **حديثِ پاک** دے: څوک چې خپل مسلمان ورور ته پهٔ محبت سره وګوري او د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې تربګني نه وي نو د سترګو اړولو نه مخکښې به د دواړو مخکښې وروستو ګناهونه اوبخښلے شي- ❁ څو ځل چې ملاقات کيږي نو لاس ميلاوهلے شئ ❁ نن سبا بعضې خلق يو يو لاس ميلاوهي بلکې صرف ګوتې د يو بل سره جنګوي دا ټول د سۨنت خلاف دي- ❁ د لاس ميلاوهلو نه پس خپل لاس ښکلول مکروه دي-آؤ! که چرې د يو بزرګ سره د لاس ميلاوهلو نه پس د برکت حاصلولو د پاره خپل لاس ښکل کړي نو مکروه نهٔ دي، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: که چرې د چا سره **مُصَافَحه** وکړے شوه، بيا د برکت د پاره خپل لاسونه ښکل کړے شو نو د منع کيدو څهٔ وجه نشته خو چې د چا سره لاس ميلاوٗ شوے وي هغهٔ پهٔ ھغه هستيانو کښې وي د کومو نه چې برکت حاصليږي-[1]

❁ د **مُصافَحې** کولو (يعني لاس ميلاوهلو) پهٔ وخت سۨنت دا دي چې لاس کښې رومال وغيره مينځ کښې خنډ [يعني رکاوټ] نه وي، دواړه د لاسونو تلي خالي وي او د لاسونو د تلي

[1]…جد الممتار، کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء وغيره، جلد:7، صفحه:65-

سره تلي ميلاوهل پـکـار دي۔(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د اخلاقي مؤمِن جوړيدو، د **الله پاک** او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي سره خپل ترون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ **12 ديني کارونو** کښې پوره برخه واخلئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دي۔

❁ **د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي۔** ❁ د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د سحر د نـمونځ د پاره تللو نو اوده [خلق] به يـې راپاڅول۔(2) ❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دغه انداز وو (3) او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنّتو باندې عمل کولو۔(4)

❁ **تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ!** د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو پخپله به درته هم د جَمعې سره د سحر د نـمونځ کولو سعادت درنصيب کيږي ❁ سحر سحر به مو د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصيب کيږي ❁ ستاسو پهٔ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئ د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئ ته هم ميلاويږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي۔ ❁ سحر وختي به درته د پيدل تللو موقع ميلاويږي نو صحت به مو هم ښه کيږي ❁

1...550سنتيں اور آداب، ص3432، مکتبة المدينه کراچي۔

2...ابو داؤد، کتاب الصلاة، باب الاضطجاع بعدها، صفحه:208، حديث:1264۔

3...مشکاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240 ماخوذاً۔

4...تاريخ الخلفاء، صفحه:112 ماخوذاً۔

يوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډېر راځي، د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې مونږ په يخنۍ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زيات شول چې د جومات په دالان کښې مو ورته شامياني [يعني تمبوان] ولګول- سُبْحٰنَ الله! هيڅ ګرانه نه ده، د جَمعې د وخت نه 20،25 منټه مخکښې راپاڅئ! د سحر د نـمونځ د پاره خو هسې هم ځئ، اواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **الله پاک** په فضل سره به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم درنصيب شي- نيت وکړئ چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاڅووم- راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته يو مَدَني سپرلے بيان کړم-

## د فيضانِ مدينه د پاره زمکه ميلاؤ شوه

د يو اِسلامي ورور بيان دے چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره مونږ يو ښار ته لاړو، د سحر د اذان نه پس مونږه د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو د پاره تللو چې ناڅاپه د يو کور نه يو ماډرن ځلمے هم زمونږ سره شامل شو او هغهٔ د سحر نـمونځ په جومات کښې د جَمعې سره ادا کړو- وروستو د هٔغه ځلمي پلار د مَدَني قافلې والؤ سره د ملاقات د پاره راغلو- هغهٔ ډېر مالداره ګس وو- هغهٔ ووئيل چې د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو په برکت زما نافرمانه ماډرن بے نـمانځه ځوي پينځه وخته نـمونځ ګزاره شوے دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هٔغه ماډرن ځلمي پلار متاثره شو او په هٔغه ښار کښې يے د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د پاره زمکه ورکړه-

ترا شکر مولا ديا ديني ماحول | نه چھوٹے کبھی بھی خدا ديني ماحول
يقينا مقدر کا وه ہے سکندر | جسے خير سے مل گيا ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نعت کوليکشن (Naat Collection) موبائل ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن سبا د ټيکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ

رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) پهٔ ذريعه هم عِلم دِين عام کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې: ***Naat Collection*** (نعت کوليکشن) دے-
❁ پهٔ دې ايپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتيِ اعظم هند، مولانا حسن رضا خان، مولانا جميل رضوي، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهِم او د امير اهلسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❁ پهٔ هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او رديف پهٔ ترتيب سره کتلے شئ- د سرچ بار پهٔ ذريعه د خپلې خوښې کلام پهٔ آسانئ سره لټولے شئ ❁ مختلف کلامونه پهٔ آډيو/ويډيو کښې اوريدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ❁ د خپلې خوښې پهٔ کلام نخښه لګولے شئ او بيا بيا يې اوريدے شئ ❁ تاسو د خپلې خوښې کلام پهٔ **مائي کليکشن** ***My Collection*** فيچر کښې محفوظ کولے شئ- کلام يا شعر کاپي کولے شئ او پهٔ واټس ايپ، فيس بک، ټويټر وغيره باندې يې شيئر کولے هم شئ- دا ايپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغيب

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د **شوال شريف** مياشت جاري ده. خوش قِسمته مسلمانان پهٔ دې مياشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو نيولو سعادت حاصلوي. راځئ چې د دې روژو فضائل واورو چې د دې روژو د نيولو او د دې د برکتونو نه د فيض حاصلولو ذهن مو جوړ شي، نو ❁ **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونيولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خيټې نه پيدا شوے وي. (1) ❁ چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يې د هغې نه پس پهٔ شوال کښې 6 روژې ونيولې. نو داسې ده چې

1... مجمع الزوائد، کتاب الصيام، باب فيمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حديث:5102-

لکه تول عمر يې روژې ونيولې. [1] ❁ خَليلِ مِلَّت مفتي محمد خليل خان برکاتي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونيولے شي نو بيا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې پۀ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پۀ دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او که پۀ ټوله مياشت کښې يې ونيسي نو نور هم مناسب معلوميږي. [2]

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل لائيو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د شپې پۀ مَدَني چينل اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به **شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د ”**26 فرامِينِ عطّار**“ رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره

---

1... مسلِم، كتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حديث:1164۔
2... سنی بهشتی زیور، صفحه:347۔

محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مُعَانَقه کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د چا چې ورور وي هغهٔ دې د خپل ورور سره مُعَانَقه وکړي۔ (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** غاړې ميلاوهلو ته مُعَانَقه وئيلے شي او مُعَانَقه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي۔ ❁ پهٔ مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح کښې دي چې: د خوشحالۍ پهٔ موقع چا ته ورغاړه وتل سُنَّت عمل دے (3) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خو خو کرته پهٔ صحابهٔ کرامو باندې شفقت کولو او هغوئي ته به يې د مُعَانَقې شرف عطا کولو۔ مثلاً ❁ د خيبر پهٔ موقع باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپلې سينې مبارکې ته راجُخت کړو او پهٔ تندي باندې يې ښکل هم کړو۔ (4) ❁ يو ځل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو ذَر غفاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راوبللو، کله چې هغوئي حاضر شول نو د شفقت کولو سره يې هغوئي له غاړه ورکړه. (5)

**الله پاک** دې مونږه پهٔ سُنَّتو باندې عمل کوونکي جوړ کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد:3 نه حصه نمبر 16

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...کَنزُ الْعُمَّال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحه:26، حديث:36235۔

3...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:359۔

4...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:813، حديث:5220۔

5...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:812، حديث:5214 خلاصةً۔

او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 **سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو[1]

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[2] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

---

[1]...وسائل بخشش، صفحه:669۔

[2]...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہم حیران شول چې دا ځوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵
2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰
3...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵